اې کاکا!: د (لا اله الا الله) کلمه ووايه، تر څو د الله تعالى په وړاندې ستا لپاره دليل ووايم

سعيد بن المسيب له خپل پلار څخه روايت کوي فرمايي: کله چې ابو طالب د وفات کېدو په حال کې و نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته راغى او ابوجهل او عبدالله بن ابي اميه بن المغيره يې ورسره وليدل، نو ويې ويل: «اې کاکا!: د (لا اله الا الله) کلمه ووايه، تر څو د الله تعالى په وړاندې ستا لپاره دليل ووايم» نو ابو جهل او عبدالله بن ابي اميه وويل : آيا ته د عبدالمطلب دين پريږدې؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم تر هغه پورې ورته د کلمې ويلو وړانديز کاوه او هغوى دواړو ورته همغه خبره کوله تر دې چې ابو طالب په خپله وروستۍ وينا کې وويل چې زه د عبد المطلب په دين يم، او له دې يې انکار وکړ چې: لا اله الا الله ووايي، وايې چې رسول الله صلى يالله عليه وسلم وفرمايل: قسم په الله چې زه به خامخا تاته بښنه غواړم تر څو چې در څخه منع شوى نه يم، نو الله تعالى دا وينا نازله کړه چې فرمايي: {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ} [التوبة: 113] [د نبي او هغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړى په کار ندي چې د مشرکانو لپاره بخښنه وغواړي]. او الله تعالى د ابو طالب په باره کې دا آيت نازل کړ، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ}. (القصص: 56) [پرته له شکه ته هغه چاته لار نشې ښودلى چې خوښوې يې، بلکې الله چې چا ته وغواړي لارښوونه يې کوي].

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل تره ابو طالب ته د مرګ په حال کې ورغى او ورته يې وويل: اې کاکا د "لا إله إلا الله" کلمه ووايه، چې د الله په وړاندې پرې ستا لپاره ګواهي ورکړم. نو ابوجهل او عبدالله بن ابي اميه وويل: اې ابو طالبه! ته د خپل پلار عبدالمطلب دين پريږدې؟! چې هغه د بتانو عبادت دى، نو تر هغه يې ورسره خبرې رواني وې، تر دې چې وروستۍ خبره يې ورته وکړه چې هغه: د عبدالمطلب د دين پيرو دى، د شرک او د بتانو د عبادت دين. نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه به درته تر هغه پورې د بخښنې دعا غواړم، تر څو مې چې رب منع کړى نه يم، نو همغه و چې د الله تعالى دا وينا نازل شوه. {مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَنْ يَسْتَغْفِرُوا لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ كَانُوا أُولِي قُرْبَى مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ} [التوبة: 113] [د نبي او مومنانو لپاره په کار ندي چې د مشرکانو لپاره بخښنه وغواړي که څه هم خپلوان يې وي وروسته له دې چې د هغوي لپاره څرګنده شوه چې هغوى دوزخيان دي]. او د ابو طالب په اړه د الله تعالى دا قول نازل شو. {إِنَّكَ لا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ} [القصص: 56]، [پرته له شکه ته هغه څوک په سمه لياره نشې روانولاى چې خوښوې يې، بلکې الله چې چا ته وغواړي په سمه لياره يې روانوي، او هغه پر لار موندونکو ښه پوه دى]. ته هدايت نه شې کولاى هغه چا ته چې غواړې هدايت وکړې، بلکې پر تا پېغام رسول دي او الله چې چا ته وغواړي هدايت ورته کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3410